# أَيْ عَمِّ، قُلْ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، كَلِمَةً أُحَاجُّ لَكَ بِهَا عِنْدَ اللهِ» «اې کاکا!: د (لا اله الا الله) کلمه ووايه، تر څو د الله تعالی په وړاندې ستا لپاره دليل ووايم

سعيد بن المسيب له خپل پلار څخه روايت کوي فرمايي: کله چې ابو طالب د وفات کېدو په حال کې و نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته راغی او ابوجهل او عبدالله بن ابي اميه بن المغيره يې ورسره وليدل، نو ويې ويل: «أَيْ عَمِّ، قُلْ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، كَلِمَةً أُحَاجُّ لَكَ بِهَا عِنْدَ اللهِ» «اې کاکا!: د (لا اله الا الله) کلمه ووايه، تر څو د الله تعالی په وړاندې ستا لپاره دليل ووايم» نو ابو جهل او عبدالله بن ابي اميه وويل : آيا ته د عبدالمطلب دين پرېږدې؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم تر هغه پورې ورته د کلمې ويېلو وړانديز کاوه او هغوی دواړو ورته همغه خبره کوله تر دې چې ابو طالب په خپله وروستۍ وينا کې وويل چې زه د عبد المطلب په دين يم، او له دې يې انکار وکړ چې: لا اله الا الله ووايي، وايې چې رسول الله صلى الله ياللہ عليه وسلم وفرمايل: قسم په الله چې زه به خامخا تاته بښنه غواړم تر څو چې در څخه منع شوی نه يم، نو الله تعالی دا وينا نازله کړه چې فرمايي: {مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ} [التوبة: 113] [د نبي او هغو کسانو لپاره چې ايمان يې راوړی په کار ندي چې د مشرکانو لپاره بخښنه وغواړي]. او الله تعالی د ابو طالب په باره کې دا آيت نازل کړ، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: {إِنَّكَ لا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ}. (القصص: 56) [پرته له شکه ته هغه چاته لار نشې ښودلی چې خوښوې يې، بلکې الله چې چا ته وغواړي لارښوونه يې کوي].

[صحيح] - [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی)]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل تره ابو طالب ته د مرګ په حال کې ورغی او ورته يې وويل: اې کاکا د "لا إله إلا الله" کلمه ووايه، چې د الله په وړاندې پرې ستا لپاره ګواهي ورکړم. نو ابوجهل او عبدالله بن ابي اميه وويل: اې ابو طالبه! ته د خپل پلار عبدالمطلب دين پرېږدې؟! چې هغه د بتانو عبادت دی، نو تر هغه يې ورسره خبرې روانې وې، تر دې چې وروستۍ خبره يې ورته وکړه چې هغه: د عبدالمطلب د دين پيرو دی، د شرک او د بتانو د عبادت دين. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه به درته تر هغه پورې د بخښنې دعا غواړم، تر څو مې چې رب منع کړی نه يم، نو همغه و چې د الله تعالی دا وينا نازل شوه. {مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ} [التوبة: 113] [د نبي او مومنانو لپاره په کار ندي چې د مشرکانو لپاره بخښنه وغواړي که څه هم خپلوان يې وي وروسته له دې چې د هغوی لپاره څرګنده شوه چې هغوی دوزخيان دي]. او د ابو طالب په اړه د الله تعالی دا قول نازل شو. {إِنَّكَ لا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ} [القصص: 56]، [پرته له شکه ته هغه څوک په سمه لیار نشې روانولای چې خوښوې يې، بلکې الله چې چا ته وغواړي په سمه لیار يې روانوي، او هغه پر لار موندونکو ښه پوه دی]. ته هدايت نه شې کولای هغه چا ته چې غواړې هدايت وکړې، بلکې پر تا پیغام رسول دي او الله چې چا ته وغواړي هدايت ورته کوي.